# THE DESCRIPTION OF PROPHETS IN THE POETRY OF REHMAN BABA

# د رحمان بابا په کلام کښې مذکور پېغمبران

Dr. Shakeel Ahmed*

**Abstract:**

Rehman Baba is the most popular Pashto poet. He is considered as universal poet because his poetry reflects humanitarian. Rehman Baba has given places to all the subjects in his poetry. He has not only described the humanity but also give places to the Prophets revealed to the earth. This article will highlight his approach to the prophets and their different aspects of life.

**Keywords:** Humanity, Universality in Rehman Baba Poetry

رحمان بابا د پښتو شعروادب هغه روڼ او ځلنده ستورے دے چې خلق ئې د یو ولي الله، جید عالم، بزرګ او نېک بنده په حېث پېژني. اګرچې د رحمان بابا د کلام مرکزي موضوعات عشق، جمال او اخلاقیات ګڼلے شي خو که په غور سره اوکتلے شي نو د رحمان بابا په دیوان کښې په ډېرو موضوعاتو او مضامینو شعرونه په نظر راځي. او دا د رحمان بابا د کلام خاصیت دے چې څومره ئې لټوې دومره پکښې نوي نوي موضوعات مخې ته راځي. د موضوعاتو د لاړونو په دغه درنګ کښې د یو شمېر پېغمبرانو ذکر هم لیدلے شي، چې رحمان بابا ئې په مختلفو حوالو ذکر کړے دے. دلته د هغه پېغمبرانو په حقله مختصر معلومات د بابا د کلام سره مخې ته راوړو.

### حضرت ادم علیه السلام:

بابـــــا ادم زمـــــــونږ بابـــــــا دے
اصـیل نمســي بـه د بابـا پـه لـوري ځینـه

حضرت ادم علیه السلام د زمکې په مخ وړومبے انسان، د انساني نسل وړومبے پلار او وړومبے پېغمبر دے. ځکه د ابوالبشر او صفي الله په نومونو هم یاد شوے.

* Lecturer Department of Pashto University of Peshawar

د الله تعالی د لويو قدرتونو نه يو قدرت دا هم دے چې حضرت ادم عليه السلام ئې د ختې څخه جوړ کړو او په خپل قدرت ئې پکښې سا پوکړه . ولې په وثوق سره ئې د پيدائش نېټه نۀ شي اټکل کېدے. ولې بيا هم ځينې تاريخونه د دۀ زمانه د نن نه لس زره کاله وړاندې ښائي .

حضرت ادم عليه السلام او د هغۀ ښځې حوا بي بي ته د الله تعالی له طرفه په جنت کښې د اوسېدو اجازت ورکړے شو خو څۀ موده پس د شېطان په لمسه د منع کړے شوې ونې نه د مېوې په خوړلو د جنت نه رابهر کړے شو او زمکې ته په سرنديب (سري لنکا) جزيره راکوز کړے شو.

ادم عليه السلام ډېره موده په خپله خطا او ګناه د الله تعالیٰ نه په معافي غوښتلو اوښکې اوبيولې او اخر الله تعالی د دۀ ګناه معاف کړه. جبريل آمين دے په عرفات کښې پرېښودو چې دلته ورسره بي بي حوا هم يو ځاے شوه. الله پاک حضرت ادم عليه السلام په زمکه خپل نائب مقرر کړو. په زمکه د دوي اولاد پيدا شو او په ټوله دنيا کښې خور او اباد شو.

عيسايان او يهوديان هم حضرت ادم عليه السلام د ټولو انسانانو پلار ګڼي. د حضرت ادم عليه السلام ذکر په قرآن مجيد کښې څوځو ځله راغلے دے.

قاضي زين العابدين سجاد مير ټهي په قصص القرآن کښې ليکي چې: "په قرآن کريم کښې په پنځه ويشت ايتونو کښې پنځه ويشت ځلې د دۀ ذکر راغلے دے".[1] "حضرت ادم عليه السلام د نهه سوه کاله ژوند نه پس وفات شو".[2]

اريانه دائرة المعارف ليکي چې: "په هند کښې وفات شو او هلته خاورو ته اوسپارلے شو".[3] د ځينې خلقو په خيال د حضرت آدم عليه السلام مزار په کشمير کښې دے".[4]

د حضرت آدم عليه السلام يادونه د رحمان بابا په دغه شعر کښې ډېر په ښکلي انداز کښې شوې ده.

نور هاله د محمد ﷺ وه په جهان کښې
چې بوي نۀ وه د آدم او د حوا[5]

حضرت نوح عليه السلام:

لکه چې وړاندې اووئيلے شول چې حضرت آدم عليه السلام د ټولو انسانانو اولنے پلار دے. د آدم عليه السلام نه پس د ټولو انسانانو پلار د الله پاک نازولے پيغمبر حضرت نوح عليه السلام دے. څوک چې د حضرت آدم عليه السلام د وفات نه اتۀ سوه شپږ ويشت (۸۲۶) کاله پس پيدا شوے دے. د حضرت

ابن عباس د وینا مطابق "نوح ؑ د آدم ؑ په لسم پشت کښې ؤ. د نوح ؑ خپل نوم سکن یا شاکر یا یشکر ؤ"[6]. حاکم وائي چې د نوح ؑ نوم عبدالغفار ؤ خو د زیاتې نوحې په وجه ئې نوح ؑ نوم شو"[7]. "د قرآن له رویه د نوح ؑ عمر نهٔ نیم سوه کاله ؤ".[8]

هر کله چې د آدم ؑ اولاد ډېر زیات شو نو د الله تعالی نافرمانې ئې شروع کړه. او د بتانو، او د نمر عبادت ئې شروع کړو نو الله پاک حضرت نوح ؑ د پېغمبر په طور رااولېږو.

حضرت نوح ؑ ډېر عمر خپل قوم ته وعظ و نصیحت او لار ښودنه اوکړه او د الله تعالی د عذاب نه ئې وېرول خو ډېرو کمو خلقو پرې ایمان راوړو. تر دې چې خپل یو زوي کنعان او یوه ښځه ئې هم کافران د دنیا تېر شول. "د روایاتو له مخې یواځې اتیا تنو نرو او ښځو پرې ایمان راوړو".[9]

د دغې کسانو نه علاوه نور قوم د نوح ؑ په وعظ و نصیحت اولاد ښودنې هېڅ عمل اونهٔ کړو. چې له وجې ئې نوح ؑ ورته ښېرې اوکړې او د الله تعالی له طرفه پرې د عذاب فېصله اوشوه. الله تعالی نوح ؑ ته امر اوکړو چې یوه لویه کشتۍ جوړه کړه او ورته حکم اوشو چې دې کشتۍ کښې صرف هغه خلق سوارهٔ کړه چې د الله تعالی وحدانیت مني.

نوح ؑ د الله په حکم یوه لویه بېړۍ جوړه کړه او هغه ټول خلق ئې پکښې سوارهٔ کړل چې ایمان ئې پرې راوړے ؤ. دغه رنګ د ټولو ساکښو یوه یوه جوړه هم پکښې کښېنولے شوه.

د دغې بېړۍ د اوږد والي، پلن والي او اوچتوالي په حقله علي محمد منګل لیکي چې:

"د بېړۍ اوږد والے درې سوه متره (ګزه) سور (پلنوالے) ئې پنځوس ګزه او لوړ والے ئې دېرش ګزه ؤ. د نوح ؑ دغې کشتۍ درې پوړونه او طبقې درلودلې: یو پوړ ئې د حېواناتو له پاره، بل ئې د انسانانو له پاره او درېم ئې د مرغانو دپاره ؤ".[10]

د الله پاک د لوے عذاب یعنې د اوبو د طوفان راتلو نه پس په کشتۍ کښې د ناست مخلوق نه علاوه ټول خلق په طوفان کښې غرق شول.

د رحمان بابا په دغه شعر کښې د نوح ؑ نوم اخستے شوے دے.

د نوح ؑ زوي هم د یو نېک نیکهٔ نمسے ؤ
ګنې زهٔ هم د یو نېک نیکهٔ نمسے شوم[11]

**حضرت ابراهیم ؑ:**

"ابراهیم ؑ د حضرت مسیح ؑ تر میلاده دوه زره کاله د مخه د

فرات سیند په کینه غاړه د بابل په جنوب په (اُر) کښې زېږېدلے دے". [12]
دغه وخت بت پرستي په زور و شور وه. ددغې زمانې خلقو به بُتان نمانځل او د هغې عبادت به ئې کوؤ. د حضرت ابراهيم پلار تارح به هم بُتان جوړول ولې حضرت ابراهیم ﷺ به د بُتانو نه کرکه کوله. هر کله چې الله تعالی په نبوت اونمانځو نو خلق ئې عبادت ته رااوبلل او د توحید تعلیم ورکول ئې شروع کړل. په دې وجه ئې بُت پرستان دشمنان شول او د وخت بادشاه نمرود چې د خدایۍ دعویٰ ئې کړې وه، حضرت ابراهیم ﷺ دربار ته رااوغوښتو او د مناظرې دعوت ئې ورکړو. او پوښتنه ئې ترې اوکړه چې:

"ستا خدا ے څوک دے؟ هغهٔ ورته اووئېل: هغه څوک دي چې مړهٔ کول او ژوندي کول کوي.

نمرو اووئېل: دا کار خو زهٔ هم کولے شم!

ابراهیم ﷺ اوفرمائېل:

زما خدا ے لمر له ختیځ نه راخېژوي تهٔ ئې لویدیز نه رااوخېژوه، په دې خبره نمرود بې ځوابه شو". [13]

"ابراهیم ﷺ د نمرود خلاف جهاد اوکړواو نمرود هغه اور ته واچوؤ. ولې اور په هغهٔ ګلزار شو". [14]

قرآن مجید د حضرت ابراهیم ﷺ نوم ډېر په درناوي یادوي.

"د دوي ذکر په قرآن مجید کښې ۸۲ ځایه راغلے دے". [15]

"حضرت ابراهیم ﷺ ۱۷۵ کاله ژوند کړے دے". [16] په مدینه الخلیل کښې خاورو ته اوسپارل شو". [17]

د رحمان بابا په دغه شعرونو کښې د حضرت ابراهیم ﷺ ذکر شوے دے.

امتـــي د ابـــراهيم شـــه
طـــابع مـــهٔ شـــه د نمـــرود [18]

د خليـــل تـــر كعبـــې دا كعبـــه ده لويـــه
كـه ابـاد كـړه څـوك ويـران حـرم د زړهٔ [19]

د غصـې زهـر ئـې شـهد شـول پـه صـبر
د خليـل پـه څېـر اتـش پـرې ګلسـتان شـو [20]

هــر څــوک چــې د عشــق پــه اتــش ځــان ســېزي رحمانــه
خدا ے دې ابراهيم علیه السلام غوندې څوک نۀ کا په لمبو کښې[21]

حضرت يعقوب علیه السلام:

حضرت يعقوب علیه السلام د الله تعالی د غوره پېغمبرانو څخه دے. دے د حضرت اسحاق علیه السلام او د حضرت ابـراهيم علیه السلام نمسے دے. "د حضـرت يعقـوب علیه السلام زمانـه انـدازتاً ۲۰۰۰ نـه ۱۸۵۹ ق م پورې ده".[1] ذکر ئې په قرآن مجيد کښې په سورة يوسف کښې راغلے دے. "قرآن پاک دې قيصې ته احسن القصص وئيلے دے".[23]

حضرت يعقوب علیه السلام په کنعان کښې ژوند کوو. پنځوس کاله ئې د دعوت تبليغ وظيفه تـر سـره کـړې وه. "بنـي اسـرائيل د يعقـوب علیه السلام د پښـته دي، ځکـه يعقـوب علیه السلام تـه اسـرائيل وائي".[24] د حضرت يعقوب علیه السلام د څلورو ښځو نه دولس زامن زېږدلي وو. حضرت يعقـوب علیه السلام په خپلو زامنو کښې د کشر زوي حضرت يوسف علیه السلام سره زياته مينه لرله، چې لـه وجې بـه ئې ورسره مېرنو وروڼو کينه لرله. تر دې چې د منصوبې مطابق دغـه وروڼو يوسـف علیه السلام کوهي تـه واچوؤ. حضرت يعقوب علیه السلام د زوي په بېلتـون کښـې د سـترګو نظر بـائېلو. د حضرت يعقـوب علیه السلام بېنائي د زوي يوسف علیه السلام د قميص په سترګو د مښلو سره واپس راغله.

"د وفات په وخت ئې عمر يو سل څلوېښت کالـه او د ځينو پـه نزد يـو سل اتۀ څلوېښت کاله ؤ. د ديـو مزار بيت المقدس نه د شپېتۀ کلوميټره پـه فاصله د جرون په قلعه سلېمان کښې دے".[25]

رحمان بابا په خپلو دغه شعرونو کښې د يعقوب علیه السلام يادونه کړې ده.

پــــه ژړا ژړا تـــــر هســـــې حـــــده راغــــے
چې ځان ړوند کړو په يوسف پسې يعقـوب علیه السلام[26]

چې قاصد د ورک يوسف علیه السلام زېرے پرې اوکړو
د يعقـوب علیه السلام د سـترګو بيـا نظـر پېـدا شـو[27]

حضرت يوسف علیه السلام:

حضرت يوسف علیه السلام د حضرت يعقـوب علیه السلام دولسـم او کشـر زوے ؤ. د حضـرت يوسـف علیه السلام يو سکه ورور بنيامين او نور لس (۱۰) مېرني وروڼه هم وو. الله تعالٰی حضرت يوسـف علیه السلام ته ډېر زيات ښائست او ښکلا ورکړې وه.

یوسف ؑ سره خپل پلار حضرت یعقوب ؑ ډېره زیاته مینه لرله ولې مېړنۍ وروڼو ئې دا مینه نۀ شوه زغملے.

"یوه شپه یوسف ؑ خوب اولیدو چې خپل پلار ته ئې بیان کړو چې یوولس ستوري، لمر او سپوږمۍ ماته سجده کوي. یعقوب ؑ د یوسف ؑ د خوب په سوچ کښې شو. چې الله به ئې په دنیا او اخرت لوے سړے کړي. یعقوب ؑ په دې هم پوهېدو چې د یوسف ؑ وروڼه دے نۀ خوښوي".[28]

یوه ورځ وروڼو یوسف ؑ د لوبو په بهانه بهر بوتلو او یو کوهي ته ئې وروا چوؤ. یوې قافلې چې د مصر په لوري تلۀ، حضرت یوسف ؑ د کوهي نه روغ رمټ رابهر کړو او د مصر په بادشاه عزیز ئې خرڅ کړو. هلته د بادشاه ښځه زلېخه پرې مئینه شوه. یوسف ؑ ئې په نیت پوهه شو. د تښتېدو هڅه ئې اوکړه خو په تېښته کښې کامیاب نۀ شو او د تهمت په لګېدو عزیز مصر په زندان کښې واچوؤ.

او بیا یو وخت داسې هم راغلو چې د مصر عزیز حضرت یوسف ؑ د شاهي خزانې وزیر مقرر کړو. د قحط د راتلو سره د حضرت یوسف ؑ وروڼه مصر ته راغلل او دغه رنګ حضرت یعقوب ؑ او د یوسف ؑ وروڼه سره بیا یو ځاے شول او هم په مصر کښې استوګن شول.

"په قرآن عظیم الشان کښې هم د دغې قیصې په اړوند په دولسمه او دیارلسمه سیپاره (پاره) کښې اوږد بیان راغلے دے. او ډېر رنګین راوړ شوے دے".[29]

د حضرت یوسف ؑ یادونه او ذکر د رحمان بابا په دغه شعرونو کښې د کتو دے.

چې یوسف غوندې هزار پکښې پراتۀ دي
بندیوان د هغه سېب ذقن په چاه یم[30]

په هجران کښې خیال د یار راسره مل دے
په زندان کښې د یوسف سره اسیر یم[31]

د یوسف د حاله زده کړه دغه پسه
وایه حال د زمانې و برادر ته[32]

و عیب جوئې ته واړه عیب څرګند ېږي
ښائسته که ځان یوسف کړ په سینګار کښې[33]

حضرت مو سیٰ علیه السلام:

"حضرت مو سیٰ علیه السلام د الله یو جلالي او لـه اولوالعزمو پېغمبرانو څخه وه، چې پـه موسی کلیم الله ئې شهرت درلود. دے د مصر د فرعون د ولید د زوي مصعب د پادشاهۍ پـه وخت کښې پېدا شو".[34] "د حضرت مو سیٰ د پلار نوم عمران ؤ. عمران د قاهت، قاهت د لاوي، لاوي د یعقوب علیه السلام زوے دے. د مور بي بي نوم ئې یوکابد وهٔ".[35]

فرغون ته نجومیانو وئېلي وو چې په بني اسرائیلو کښې بـه یو هلک پېدا کېږي او دے به له مخه اوړي. له دې وجې فرعون د بني اسرائیلو د ماشومانو د قتلولو حکم ورکړے ؤ. په دې حالاتو کښې د مو سیٰ علیه السلام ولادت د عمران په کور کښې اوشو. او د الله تعالی په کړو هم د فرعون کره ئې پرورش اوشو او هم د هغهٔ په کور کښې رالوے شو.

الله حضرت مو سیٰ علیه السلام ته پېغمبري ورکړه او اسماني کتاب تورات ئې پرې نازل کړو. دغه رنګ د امسا (عصا) او ید بیضا معجزې هم ورکړے شوې. موسی علیه السلام چې به امسا اوغورځوله نو اژدها په ترې جوړه شوه او چې لاس به ئې په ترخ کښې ورکړو نو سپین به شو او شغلې به ترې ختلې.

فرعون د مو سیٰ علیه السلام د مقابلې دپاره جادوګران رااوغوښتل خو دغه جادوګران د موسیٰ علیه السلام مخکښې کمزوري شول. او اخر فرعون او د هغهٔ لښکر د نیل په دریاب کښې غرق شول. "د تورات له مخ د هغوي عمر ۱۲۰ کاله ؤ".[36]

په دغه لاندیني شعر کښې رحمان بابا د مو سیٰ نوم یاد کړے دے.

څوک لـه خدایه سره خبرې شي کولے
دهٔ موسی مشرف کړے پـه دا شان دے[37]

د خپل زړهٔ و علامت وتـه حیران یم
چې موسی دے کـه قارون دے نهٔ پوهېږم[38]

حضرت خضر علیه السلام:

د مسلمانانو د عقیدې مطابق خضر علیه السلام یا ولي الله دے. پـه قرآن پاک د حضرت موسیٰ او حضرت خضر علیه السلام د ملاقات قیصه ذکر ده.

مولانا سیوهاروي صاحب وائي چې:

"قرآن پاک چې په کوم رنګ د خضر علیه السلام ذکر کړے دے د هغې نه دا جوتېږي چې دے نبي ؤ". [39]

د خضر علیه السلام ځینې د عاداتو نه خلاف روایتونه هم شتون لري. لکه د حضرت خضر علیه السلام متعلق مشهوره ده چې هغهٔ د ژوند اوبهٔ (آب حیات) څښلي دي، چې له وجې به ئې خضر علیه السلام تر قیامته ژوندے وي او د خلقو مرسته به کوي او په خپل کرامت به ئې تر خپل هدف رسوي. د دې خبرو چونکې څهٔ پوخ سند نشته نو یقین کول پرې ګران دي.

د رحمان بابا د دیوان د ښکلي لاله زار نه د حضرت خضر علیه السلام په حقله څو شعرونه:

لکــــه خضـــر هســـې پاڅـــه
اوبـــهٔ اوڅښـــه د بقـــا [40]

څـوک پــه ســپینه ږیــره پــائي تــر قیامتــه
دهٔ پــه خضــر بانــدې کــړے دا احســان دے [41]

څــو مــې خپلــه مــدعا حاصــله نــهٔ وي
مهرويــان پــه خُلــهٔ د خضــر ســودا نــهٔ کــا [42]

رهبــري کــه ګمراهــانو تــه کــړي خضــر
عاشــقانو لــره خضــر ســتا ربــار دے [43]

د امیــد مــزے ئــې هســې رنــګ دراز وي
چې تـر خضـره ورتـه خپـل عمـر بېسیار شي [44]

حضرت ایوب علیه السلام:

"حضرت ایوب علیه السلام د حضرت عیض زوے او د حضرت اسحاق علیه السلام نمسے ؤ. مور ئې د حضرت لوط علیه السلام لُور وه. او نکاح ئې د حضرت یعقوب علیه السلام لُور سره کړې وه"[45]. "د دهٔ زمانه پنځلسمه شپاړسمه صدي قبل مسیح ده"[46]. څو څو ځایه ئې په قرآن مجید کښې ذکر راغلے دے.

الله تعالیٰ ایوب علیه السلام ته ډېر زیات مال حال ورکړے ؤ. د الله تعالیٰ په دغه نعمتونو او ورکړه حضرت ایوب علیه السلام هر ساعت شاکر او صابر ؤ. روایت دے چې شیطان الله تعالیٰ ته اووئېل چې د حضرت ایوب علیه السلام اطاعت د ورکړے شوي نعمتونو او مال حال له وجې دے. نو الله تعالیٰ اوغوښتل چې په حضرت ایوب علیه السلام ازموینه اوکړي.

الله تعالیٰ د حضرت ایوب ؑ په مال او اولاد زوال راوستو او ټول نعمتونه ئې ترې واخستل. تر دې چې په بدن کښې ئې چینجي اوشول او خپل خپلوانو او ملګرو ترېنه ډډه شروع کړه او ترې جدا شول. ولې حضرت ایوب ؑ لکه څنګه چې اول د الله تعالیٰ شکر ګزار ؤ، مصیبت او تکلیف کښې هم صابره پاتې شو.

حضرت ایوب ؑ د الله تعالیٰ نه دعا اوغوښته. الله تعالیٰ د حضرت ایوب ؑ دعا قبوله کړه. حضرت ایوب ؑ ته په زمکه د پښې وهلو حکم اوشو. په زمکه د پښې وهلو سره د زمکې نه یوه چینه جاري شوه. حضرت ایوب ؑ په دغه چینه کښې اولامبل او اوبهٔ ئې ترې اوڅښلې. چې ورسره د دوي بدن روغ رمټ شو او د وړومبي نه زیات ښکلے او صحت مند شو. او الله تعالیٰ یو ځل بیا په خپلو ټولو نعمتونو اونمانځو.

"د دۀ د لاس جوړ شوے کوهي یا چینه او جماعت اوس هم د اردن په (نوه) کښې شته. کوهي ته ایوبي حمام وائي".[47]

"د حضرت ایوب ؑ د عمر متعلق مختلف روایات دي. چې اووۀ کم سل، یو سل څلور او دوه سوه کاله یادولے شي".[48]

د حضرت ایوب ؑ متعلق د رحمان بابا دغه شعر اولولئ.

ګوره عشق څۀ رنګ اسان کړۀ و عاشق ته
دا مشـــــکل مشــــقتونه د ایـــــوب[49]

حضرت داؤد ؑ:

"حضرت داؤد ؑ هم د بني اسرائیلو پیغمبر تېر شوے دے. د دوي ذکر په قرآن پاک کښې څو څو ځایه راغلے دے. خصوصاً په سوره ص کښې ډېر په تفصیل سره ملاوېږي"[2]. داؤد ډېر خوږ اواز لرلو. ان چې اواز ته به ئې ځناور هم راټولېدل. داودي لحن همدا اوس هم مشهور دے"[51]. د طالوت په موجودګۍ کښې یا د هغۀ د مرګ نه پس د بني اسرائیلو د حکومت واګې ئې په لاس راغلې. په دغه اوان الله پاک د نبوت او رسالت په انعام هم ونمانځۀ. حضرت داؤد ؑ ته الله پاک زبور ورکړو. د تقریر او خطابت فن کښې ورته کمال حاصل ؤ. داسې وېنا به ئې کوله چې یو یو ټکے یوه یوه جمله به جدا جدا د اورېدونکي په فهم کښې راتله چې له وجې ئې په وېنا کښې فصاحت یو په دوه ؤ"[52]. د څلوېښت کاله حکومت نه پس داؤد ؑ وفات شو. اویا کاله پائېدلے ؤ.[53]

د حضرت داؤد ؑ ذکر عبدالرحمان بابا په خپل دغه شعر کښې کړے دے.

هـــر اشـــيا د حـــق ثنـــا کـــا
پـــــه نغمـــــه لکــــــه داؤد[54]

حضرت سلېمان ؑ:

"سلېمان ؑ د داؤد ؑ زوے او بطشا بن حنا د ګېډې نه پېدا شوے ؤ. بطشا د اوريا بي بي وه او د هغهٔ د شهيد کېدو نه پس داؤد ؑ په نکاح اخستې وه"[55]. د داؤد ؑ د وصيت مطابق تخميناً ۹۷۴ق م کښې بادشاه شو او (د خپل وفات) ۹۳۷ ق م پورې ئې ډېره په شان و شوکت سره حکومت کړو".[56]

"دهٔ يوه ګوتۍ او نګين درلود. د دغه نګين له مخې چې د اعظم نوم (اسم اعظم) پرې کښل شوے وو. د انس او جنس بادشاهي ئې د هغهٔ له فېض او برکته په نصيب وه. انسانان، دېوان، پېريان، ښاپېريان، مرغان، خوځندې او باد ورته اېل او مطيع وو[57]. "مسجد اقصىٰ چې قرآن کريم هم ياد کړے دے. سلېمان ؑ جوړ کړے. په هم دې جماعت کښې د امسا (عصا) په تکيه ولاړ ؤ، چې ساه ئې واخستل شوه"[58]. د سلېمان ؑ قبر په بيت المقدس کښې دے"[59]

د رحمان بابا په دغه شعرونو کښې د حضرت سلېمان ؑ نامه په مختلفو حوالو اخستے شوې ده.

نـهٔ ملکونــه د ســلېمان پــه هــزار کالــه
نــهٔ يــوه ګــړۍ طاعــت پــه دا دنيــا[60]

څوک اېښود ے په توسن د اسمان زين شي
اېښــے دهٔ پــه هــوا تخــت د ســلېمان دے[61]

هنــر مــهٔ غــواړه طــالع لــه خدايــه غــواړه
څــهٔ پکــار بــې ســلېمانه کــه خــاتم وي[62]

عاشــقان ئــې د دنيــا لــه غمــه خــلاص کــړهٔ
عاشــقي د ســلېمان بادشــاه غمــے دے[63]

حضرت عيسىٰ ؑ:

د الله تعالى نازولے او رېښتونے پېغمبر حضرت عيسى ؑ چې مسيح هم بللے شي. د حضرت مريم زوے ؤ. دے د مور د نس نه بې پلاره پېدا شوے دے. مور بي بي ئې ډېره پاکه،

پرهېز ګاره، نېکه او پاک دامنه ښځه وه. حضرت عیسی ﷺ په ماشوموالي په زانګو کښې خبرې کولې.

حضرت عیسیٰ د بني اسرائیلو اخري پېغمبر ؤ. د الله تعالیٰ له طرفه پرې اسماني کتاب انجیل نازل شوے ؤ. عیسوي سن د حضرت عیسیٰ ﷺ د زېږېدنې څخه شروع شوے دے.

"یهودو ئې په سولۍ خېژول غوښتل خو لوے خدائے په ډېر درناوي او عزت سره عیسیٰ مسیح ﷺ د یهودو له ناولیو منګولو نه وژغورۀ او اسمان ته ئې وخېژوۀ".[64]

"حضرت عیسیٰ د اهل سنتو د عقیدې مطابق الله تعالیٰ د ۳۳ کالو په عمر کښې ژوندے اسمان ته پورته کړے دے او د عیسایانو د عقیدې تر مخه د وفات نه درې ورځې پس اسمان ته اوچت کړے شوے دے".[65]

د حضرت عیسیٰ ﷺ ذکر رحمان بابا په خپل دیوان کښې څو څو ځایه کړے دے. لکه:

جاهلان دي په مثال د مردګانو
عالمان دي په مثال د مسیحا[66]

له زمینه قدم کېږده
په اسمان لکه عیسی[67]

لکه لعل و کوتي لعل وبله ګډ شي
یا صحبت شي د عیسی او د دجال[68]

څوک له زمکې و اسمان ته شي ختلے
دۀ عیسی لره ورکړے دا مکان دے[69]

سر نوشت د سړي خپل دي
یو عیسی وي بل دجال شي[70]

د عیسی له دمه دم وهلے نشم
چې خُلۀ بېرته شي په ګفت و ګوئي د ستا[71]

**حضرت محمد ﷺ:**

"د سید المرسلین پېدائش د عام الفیل نه پنځوس ورځې پس په دولسم ربیع الاول

**۵۷۱**ء د ګل په ورځ د سحر په وخت په عمل کښې راغے"[72]. "محمد ﷺ او احمد ئې نوم او رحمة اللعالمين ئې لقب او حبيب الله ئې خطاب دے. د حضرت ابراهيم عليه السلام د ستر زوي حضرت اسماعيل ذبيح الله له پښته ؤ. پلار ئې عبدالله بن عبدالمطلب ؤ، چې د رسول الله ﷺ له ولادت نه څو مياشتې مخکښې وفات شوے ؤ"[73]

د څلوېښت کالو په عمر کښې ورته جبرائيل امين عليه السلام راولېږلے شو او د نبوت زېرے ئې پرې اوکړو. اسماني مقدس کتاب قرآن مجيد پرې نازل کړے شو. د رسالت په اعلان ئې د عربو ټولې قبيلې مخالف شوې. ولې محمد ﷺ خپل کار ته دوام ورکړو او خلق ئې د خدائے پاک د وحدانيت طرفته رااوغوښتل او د الله تعالیٰ احکام ئې خلقو ته اورسول. د جهالت توره پرده ئې د اسلام په سپېڅلي او مقدس نور سره تل دپاره روښانه کړه او د تيارې ظلمت، دښمنۍ او تربګنۍ په ځائے ئې عدل و انصاف او مينه محبت مخې ته راوړل.

"په يوولسم هجري کال د ربيع الاول په دولسمه د **۶۳** کالو په عمر له فاني دنيا نه رحلت اوکړو، او د حضرت ام المؤمنين عائشې صديقې رضي الله تعالیٰ عنها په حجره کښې ئې وصال اوشو".[74]

د حضرت محمد ﷺ نوم هم د رحمان بابا په کلام کښې په مختلفو حوالو ذکر شوے دے ولې دلته به ئې صرف د نعت په څو شعرونو اکتفا اوکړو.

که صورت د محمد ﷺ نۀ وے پېدا
پېدا کړې به خدائے نۀ وه دا دنيا

کل جهان د محمد ﷺ په روي پېدا شۀ
محمد ﷺ دے د تمام جهان ابا

نبوت په محمد ﷺ باندې تمام شۀ
نشته پس له محمد ﷺ انبياء

نُور هاله د محمد ﷺ ؤ په جهان کښې
چې بوي نۀ ؤ د ادم او د حوا.....

که نبي دے که ولي دے که عاصي دے
محمد ﷺ دے د همه واړو پېشوا

چــې ئــې دیــن د محمــد ﷺ دے قبــول کــړے
جنتـــي دے کـــه فاســـق دے کـــه پارســـا

محمــــــــد ﷺ د ګمراهـــــانو رهنمــــا دے
محمـــــــد ﷺ دے د ړنـــــدو د لاس عصـــــا

کــــه رښــــا ده پیـــروي د محمـــــد ﷺ ده
ګنــه نشـــته پـــه جهـــان بلـــه رښـــا[75]

د نتیجې په توګه دغه خبره په ډاګه کېږي چې د رحمان بابا کلام په موضوعاتي لحاظ صرف د عشق، جمال او اخلاقیاتو پورې محدود نهٔ دے پاتې شوے بلکې یو شمېر نور موضوعات هم لري. د نورو موضوعاتو سره سره رحمان بابا په خپل کلام کښې په مختلفو حوالو د ځینې پېغمبرانو ذکر هم کړے دے. چې ځینې پکښې تلمیحاتي رنګ هم لري. په کلام کښې د ګڼ شمېر پېغمبرانو ذکر که یو طرفته د رحمان بابا خپل مذهب او مذهبي واقعیاتو سره مینه په ډاګه کوي نو بل اړخ ته د رحمان بابا د ژورې مذهبي پوهې او فراخې مطالعې په دلیل ګواهي هم ورکوي.

**References**:


1. Sajad Mirati, Qazi Zain ul Abidin, Qasas ul Quran, Mutarajum, Hafiz Maazullah Kashmiri, Maktaba Akramia Mohalla Jangi, Uqab Qisa Khwani Bazar Peshawar, Chap Kaal Na Lari, p. 15
2. Rafi Usmani, Mufti, Adam se Muhammad Tak, Ayub Publishers Dev Band 2009, p. 14
3. Aryana Dairatul Ma'arif, Lomre Tok, Da Afghanistan da Alumu Akadmi, Neraska Matba Kabul, 1386 sheen 2007, p. 13
4. Ayaz Maqsood, Shakhsiyat ka Encyclopedia, Shifa-e-Adab, Chowk Anar Kali Muslim Masjid Lahore No. 8, 1987, p. 33
5. Da Abdur Rahman Baba Dewan, Muqadema wo Tarteeb Mia Syed Rasool Rasa, University Book Agency Kyyber Bazar Pekhawar, p. 3
6. Pani Pati, Muhammad Sanaullah, Allama, Tafseer Mazhari (Urdu), Jild 4, Darul Isha'at Urdu Bazar Karachi, p. 233
7. Seyoti, Jalal ud Din, Al-Inqan fe Alumul Quran, Tehqeeq wo Takhreej, Fawaz Ahmad Zamrati, Darul Kitab Al-Arabi, Berut Labab 1325 Hijri, p. 746
8. Muhammad Shafi, Mufti, Ma'rif ul Quran, Jild No.3, Idaratul Maref Karachi No. 14, Muharramul Harram 1421 Hijri, April 2000, p. 592
9. Mangal, Ali Muhammad, Pa Landio Ke Talmeeh ao Tareekhi Sarchini, Danish Khparndoya Tolana, 2010, p. 7
10. Hum Dagha Asar, p. 7
11. Da Abdur Rahman Baba Deewan, Muqadema wo Tarteeb, Mia Syed Rasool Rasa, p. 78
12. Sameem, Muhammad Asif, Da Rahman Baba da Deewan Noom Khod, Rahman Adabi Jirga Pekhawar, Jadoon press Pekhawar, 1986, p. 57
13. Hum Dagha Asar, p. 57
14. Quran, Surat Anbiya, Ayat No. 69
15. Usmani, Muhammad Rafi, Mufti, Adam se Muhammad Tak, p. 22
16. Seyoti, Jalal ud Din, Al-Inqan fe Alumul Quran, Tehqeeq wo Takhreej, Fawaz Ahmad Zamrati, p. 748
17. Sameem, Muhammad Asif, Da Rahman Baba da Deewan Noom Khod, p. 58
18. Da Abdur Rahman Baba Deewan, Muqadema wo Tarteeb, Mia Syed Rasool Rasa, p. 30
19. Hum Dagha Asar, p. 52
20. Hum Dagha Asar, p. 154
21. Hum Dagha Asar, p. 164

22. Seyoharvi, Mulana Muhammad Hafiz ur Rahman, Qasasul Quran, Maktaba Rahmania, Ghazani street Urdu Bazar Lahore, Matba Raza Printers Lahore, Jild 1, p. 170
23. Bettany, Noor Muhammad Danish, Doctor, Pukhto Tappa ke Zeene Mazkoor Shakhsiyat, Pukhto Academy, Pekhawar University 2019, p. 32
24. Sameem, Muhammad Asif, Da Rahman Baba da Deewan Noom Khod, p. 88
25. Urdu Jame, Encyclopedia, Jild Dom, Sheikh Ghulam Ali and sons (Pvt) limited publishers chowk anar kali Lahore, 1988, p. 1400
26. Da Abdur Rahman Baba Deewan, Muqadema wo Tarteeb, Mia Syed Rasool Rasa, p. 24
27. Hum Dagha Asar, p. 56
28. Ahmadzai, Muhammad Asif, Da Peghambarano Qisi, Dohom Tok, Seerat Khprandoya Tolana Kabul, 1393, p. 38
29. Mangal, Ali Muhammad, Pa Landiyo ke talmeeh ao tareekhi sarchene, p. 10
30. Da Abdur Rahman Baba Deewan, Muqadema wo Tarteeb, Mia Syed Rasool Rasa, p. 72
31. Hum Dagha Asar, p. 74
32. Hum Dagha Asar, p. 126
33. Hum Dagha Asar, p. 162
34. Mangal, Ali Muhammad, Pa Landiyo ke talmeeh ao tareekhi sarchene, p. 11, 12
35. Seyoharvi, Mulana Muhammad Hafiz ur Rahman, Qasasul Quran, p. 37
36. Torat, Istesna, Nashar Pakistan Bibile Society Lahore, Matba CGPS Hong Kong, 1982, Bab 34, 4 At.
37. Da Abdur Rahman Baba Deewan, Muqadema wo Tarteeb, Mia Syed Rasool Rasa, p. 103
38. Hum Dagha Asar, p. 184
39. Seyoharvi, Mulana Muhammad Hafiz ur Rahman, Qasasul Quran, p. 547
40. Da Abdur Rahman Baba Deewan, Muqadema wo Tarteeb, Mia Syed Rasool Rasa, p. 21
41. Hum Dagha Asar, p. 103
42. Hum Dagha Asar, p. 174
43. Hum Dagha Asar, p. 219
44. Hum Dagha Asar, p. 221
45. Badshah-e-Room, Da Khushal Pa Kalaam ke Mazkoor Shakhsiyat, da PhD. Tehqeeqi Maqala, Pukhto Sanga Pekhawar Pohantoon, Nachap 2007, p. 10
46. Urdu Enclyclopedia, Jild Awal, p. 193
47. Sameem, Muhammad Asif, Da Rahman Baba da Deewan Noom Khod, p. 64
48. Zakaullah, Allah ke Nabi, Nashar Zakaullah Lahore, Matba Javed, Riaz Printers Lahore, June, 2003, p. 119.

49. Da Abdur Rahman Baba Deewan, Muqadema wo Tarteeb, Mia Syed Rasool Rasa, p. 24
50. Usmani, Muhammad Rafi, Mufti, Adam se Muhammad Tak, p. 57
51. Sameem, Muhammad Asif, Da Rahman Baba da Deewan Noom Khod, p. 70
52. Seyoharvi, Mulana Muhammad Hafiz ur Rahman, Qasasul Quran, p. 61
53. Urdu Jame Encyclopedia, Jild Awal, p. 592
54. Da Abdur Rahman Baba Deewan, Muqadema wo Tarteeb, Mia Syed Rasool Rasa, p. 30
55. Qasasul Anbiya (Pukhto Tarjuma) Amanat Khan Arif Khattak, Zeb Publishers Mahalla Jangi Pekhawar Chap Kaal Na lari, p. 410
56. Urdu Jame Encyclopedia, Jild Awal, p. 776
57. Mangal, Ali Muhammad, Pa Landiyo ke talmeeh ao tareekhi sarchene, p. 14
58. Sameem, Muhammad Asif, Da Rahman Baba da Deewan Noom Khod, p. 74
59. Hum Dagha Asar, p. 74
60. Da Abdur Rahman Baba Deewan, Muqadema wo Tarteeb, Mia Syed Rasool Rasa, p. 6
61. Hum Dagha Asar, p. 103
62. Hum Dagha Asar, p. 215
63. Hum Dagha Asar, p. 235
64. Sameem, Muhammad Asif, Da Rahman Baba da Deewan Noom Khod, p. 76
65. Darya Abadi, Maulana Abdul Majid, Tafseer Majidi, Nashar Majlis Nashriyat Karachi, Matba Shakeel Printing Press Karachi, 1998, Jild 1, p. 113
66. Da Abdur Rahman Baba Deewan, Muqadema wo Tarteeb, Mia Syed Rasool Rasa, p. 19
67. Hum Dagha Asar, p. 21
68. Hum Dagha Asar, p. 72
69. Hum Dagha Asar, p. 103
70. Hum Dagha Asar, p. 107
71. Hum Dagha Asar, p. 119
72. Khattak, Abdul Hakeem Shah, Dastaar Nama, (Serana Ao Samaona) Da Afghanistan Da Aloomo Akadmi Kabul Puhantoon, Zabo Ao Adbiyato Puhanzey – Baheer Matba, Kabul 2018, p. 556
73. Sameem, Muhammad Asif, Da Rahman Baba da Deewan Noom Khod, p. 77
74. Hum Dagha Asar, p. 81
75. Da Abdur Rahman Baba Deewan, Muqadema wo Tarteeb, Mia Syed Rasool Rasa, p. 3